دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۰/۱۲/۱۵

# په ارغنداب کې د حکومتي سرتیرو نوی جنګي جنایت

د دسامبر په ۱۳ مه نیټه په مدیا او مطبوعاتو کې لاندي خبر خپور شو : « افغان امنیتي ځواکونه وایي، د کندهار ارغنداب ولسوالی چاپیزو عملیاتو کې یې د اوو ځانمرګو بریدګرو په ګډون ۶۳ وسله وال طالبان وژلي. خو د سیمي خلک وایي، ټول وژل شوي ولسي وګړي دي».

له سیمي څخه د خپرو شویو راپورونو په اساس، حکومتي چورلکو په ارغنداب ( ناګهان نومي سیمه ) کې د ملکي وګړو پر کورونو بمبار کړی چي له امله یې ګڼ کورونه ویجاړ شوي او د ماشومانو په ګډون دیارلس تنه وژل شوي دي.

د بی بی سي په خبره :

« د ارغنداب اوسېدونکو هم ویلي، تېره شپه دې ولسوالۍ کې د یوه ساعت لپاره بمباري روانه وه او ولسي وګړي پکې وژل شوي دي. په دغو بریدونو کې د یوه ځایي اوسېدونکي کور هم لګېدلی، چې دوه ورونه، مېرمن او څلور ماشومان یې پکې وژل شوي.

په ملکي خلکو ګوزار څو واقعیتونه په داګه کوي :

- امریکا او ملګرو یې د یرغل په پیل کې په افغانستان باندې د بشپړ کنترول په مقصد پښتون وړنه د یو جنګي تکتیک په توګه ومانه. نړیوال نظامي ائتلاف تروریزم سره د جګړې په پلمه د جګړې د پیل نه راهیسي د پاکستان په ملګرتیا، پښتون وړنه ( قاومي ژنوساید ) د خپل جنګي تکتیک په حیث وکارول. د ارغنداب پیښه د دغه لړۍ ادامه ده.

- د نړیوال نظامي ائتلاف او د کابل اداري د امنیتي اورګانونو جوړښت د ملیشیایی جګړې له غوښتنو سره سمونوالي نلري. د ناتو او کابل اداري د امنیتي اورګانونو ترکیب او ځرنګوالي د دولتونو تر منځ د جګړې په مقصد جوړښت موندلي دي نه د دولت او ملیشیایي جګړې په موخه.

- حکومتي ځواکونه د طالبانو سره د مستقیمي ځمکني مقابلې عقیدوي او تجهیزاتي وړتیا نلري. بناً دیته اړ کیږي چه د چوت اندازو بمباریو له لارې د طالب مقاومت وځپي.

- د طالب جنګیالو مورچلونه د ولس په غیږ کې پروت دي. حکومتي ځواکونه چه یوازې د هوائي عملیاتو نه کته پورته کوي، کولي نشي چه د ولسي وګړو نه جلا له طالب سره چلند وکړي. حکومتي ځواکونه د لوژستیک او استخباراتي تجهیزاتو نه چه ځمکني دقیق او هدفمند عملیات تر سره کړي بې برخي ساتلي شوېدي.

- د ائتلاف شلو کلونو په اوږدو کې پرله پسي خداي په جات جنایت او وړنه دا په داګه کوي چي افغانستان د بهرنیو او کورنیو جنایت کارانو د پاره په یو خوندي پټنځای بدل شوی دی. په تأسف سره د جنګي جنایتونو د استمرار له کبله د ده


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com

په وراندې د افغانانو او نړیوالو حساسیتونو کچه لویدلې ده. د جنګي جنایتونو په اړه د بازخواست او قانوني تعقیب د یو میکانیزم نښتوالي د دې لامل شوې چه د جګړې ښکیل اړخونه او په ځانګړې توګه حکومتي سرتیرو بی خیال او بی پروا ملکي ولس په نښه کړي.

- په حکومتي امنیتي اورګانونو کې د پخواني کمونستي پوځ د افسرانو نفوذ د ملکي تلفاتو بل غټ لامل ګڼلې شو. د بن د کانفرانس نه وروسته خادیستان او پرچمیان د دیموکراسي تر چتر لاندې په دولتي اورګانونو کې ژور اغیز وموند. د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند څلویشت کاله کیږي چه د اسلامي دلو او ملت پالو سره په خونړۍ جګړه بوخت دي. په پوځ کې انقلابي قوماندان که په یوه کلي کې د یو طالب په ورنه سل غیر طالب ووژني، هغې ته د یو انقلابي لاسته راوړنه په حیث شمیري.

- د ژیوپولتیکو موخو د پاره د سکتاریستي ، قومي اومذهبي تفرقي نه ګټه پورته کول د ښکیلاک ګرو ځواکونو د عمر د اوږدوالي په اندازه لرغونتوب لري. په نږدې کلونو کې امریکا او انګلستان په افریقا ( روندا )، لاتین امریکا، ختیځې اروپا ( یوګوسالویا ) او منځنې ختیځ (عراق او سوریې ) کې په سکتارستي، قومي او مذهبي ټکرونو کې د پام وړ سیاسي پانګه اچونه کړې ده.

په افغانستان کې د قومي عصبیتونو نه سیاسي استفاده د یرغلګرو قوتونو د اجنډآ په سر کې قرار لري.

د بهرني اشغالګرو ځواکونو د پالیسي له مخې حکومتي – امنیتي اورګانونه یوه لویه برخه د قاومي لړکیو د منسوبینو نه جوړې شوې دي. په واقعیت کې قاومي اقلیتونه د طالبانو سره د جګړې په پلمه د جګړې په میدانونو کې د قاومي تصفیې پروګرام پرمخ وړي.

د ارغنداب په جنایي پیښه کې مطمئناً د دولتي تروریزم سره مخ یو. دغه وحشتناک جنایت پخپل وار ځانمرګی بریدونو ته انګیزه برابروي او غیر دولتي تروریزم ته وده ورکوي.

د ملکي وګړو مرګ ژوبله لامل هر څه چه وي د حکومتي پوځ قوماندانان باید پدې باندې ځان پوه کړي چه دوي د بهرني ملاتړ تر پوښښ لاندې د جنایتونو د بې پروا ارتکاب په اړه تر ابده پورې مصئونیت لرلې نشي. بهرنیان د افغانستان نه وزي. سوله او عدالت راتلونکي ده. هیڅ بهرني او کورني جنایتکار د عدالت د منګولو نه ځان ژغورولي نشي. انشاالله



[د دوکتور عثمان تره کی د نورو لیکنو لپاره، دلته کلیک وکړی.]


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com